2 017550 139621

مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۴۰۰ د غویي ۱۳مه | د ۲۰۲۱ د مې درېیمه | ۷۱٦مه ګڼه

# بوړنوونکې پېښې او د حکومت بې پروايي؛

## په کابل کې اورلګېدنې د درنو مالي زیانونو تر څنګ ۲۳ کسانو ته مرګ ژوبله واړوله


۳

پرله پسې اورلګېدنې او د چارواکو غلفت
۲ مخ

اسامه بن لادن؛ تر مرګ ۱۰ کاله وروسته یې کوم میراث پاتې دی؟
۲ مخ

توندلاري زمونږ د ارزښتونو برخه نه وه
۳ مخ

## بلومبرګ: امریکا له افغانستانه په وتلو سره د ویتنام د جګړې تېروتنه بیا تکراروي

بلومبرګ خپروني له افغانستان څخه د امریکايي سرتېرو وتلو ته په اشارې ویلي، چې امریکا له افغانستان څخه د خپلو سرتېرو د وتلو په پرېکړې سره وښوده چې د ویتنام له جګړې یې زده‌کړه نه ده کړې.

سرچینه کاږي، د بایډن اداري په افغانستان کې د افغان او امریکايي سرتېرو زرګونه قرباني هېرې کړې او له افغانستان څخه یې د خپلو سرتېرو په وتلو سره د ویتنام تېروتنه بیا تکرار کړه. د خپرونې په باور، امریکا په دغه اوږده جګړه کې ماتې خوړلې، نو ځکه یې د خپلو سرتېرو د ایستلو لپاره بېړه لرله او وېرېدل چې که پاتې شي، نو د ترهګرو له لوري به له یوې مخې ووژل شي. خود خپرونې په خبره، امریکا باید د افغان جګړې په اړه دومره وارخطايي نه وای کړې؛ ځکه چې ترهګر هغومره هم پیاوړي نه دي چې د امریکايي سرتېرو حتی یو بېس ته هم ورننوځي. خپرونه وایي، جو بایډن باید د افغانستان د جګړې په اړه خپله حوصله له لاسه نه وای ورکړې؛ ځکه له دغه هېواد څخه د امریکايي سرتېرو تر وتلو وروسته هېڅ داسې تضمین نه شته چې وښیي تېرې لاسته راوړنې به خوندي پاتې کېږي او افغانان به خپلو کې یوې هوکړې ته سره رسېږي.

بلومبرګ داسې مهال د افغان جګړې په اړه دغه څرګندونې کوي، چې تر دې وړاندې ګڼو لویدیځو رسنیو له افغانستانه د امریکايي ځواکونو وتل مناسب اقدام بللی دی.

## سیاسیون دې یا د خبرو لپاره سره متحد شي او یا دې سختې جګړې ته په تمه شي



۵ مخ

## کاروبار


۴ مخ

### ناسا

ناسا امریکايي فضايي او هوانوردي سازمان دی، چې کلنۍ بودیجه یې تر ۱۷ میلیاردو اوړي. د شمېرو له مخې، دغه سازمان ۱۸ زره کار کوونکي لري چې په بېلو برخو کې فعالیت کوي.



## نړیوال بانک د افغان ماشومانو د زده‌کړو لپاره ۲۵ میلیونه ډالر مرسته اعلان کړې




نړیوال بانک د ماشومانو د زده‌کړو په موخه له افغانستان سره د ۲۵ میلیونه ډالرو مرسته اعلان کړې ده. نړیوال بانک ویلي، دوی غواړي چې د ماشومانو لپاره د زده‌کړو د خوندي چاپېریال برابرولو او په دې برخه کې د ستونزو د حل په موخه د افغانستان د پوهنې له بهیر سره ۲۵ میلیونه ډالر بلاعوضه مرسته وکړي.

سرچینه کاږي، چې دغه پیسې به د اقرا پروګرام له لارې لګول کېږي او ټاکل شوې چې په مرسته یې سلو ښوونځیو ته ودانۍ جوړې شي. نړیوال بانک دغه راز ویلي چې له دې پیسو به د ښوونکو لپاره روزنیز پروګرامونه جوړېږي او هڅه کېږي چې د ماشومانو د زده‌کړو لپاره اسانتیاوې رامنځ ته شي.

دغه بانک همدا راز ویلي چې دوی له افغانستان سره په بېلابېلو انکشافي او پراختیايي برخو کې خپلو مرستو ته ادامه ورکوي.

### وزارت صحت‌عامه:

## تلفات رویدادهای ترافیکی سی درصد افزایش یافته‌است



وزارت صحت‌عامه می‌گوید که در ماه حمل امسال، ۳۵تن در رویدادهای ترافیکی در کشور جان باخته‌اند و ۱۳۹۸تن زخم برداشته‌اند. بربنیاد آمارهای این وزارت، شمار تلفات رویدادهای ترافیکی سال گذشته ۲۷۶ بوده‌است. به این ترتیب، تلفات رویدادهای ترافیکی نسبت به پارسال به‌گونه میانگین ۳۰درصد افزایش را نشان می‌دهد.

وزارت صحت‌عامه می‌گوید که در ماه حمل امسال، ۴۱۰رویداد ترافیکی در کشور ثبت شده‌اند. در همین حال شماری از راننده‌گان در شاهراه‌های کشور، خرابی جاده‌ها و بی احتیاطی راننده‌گان را از عوامل افزایش رویدادهای ترافیکی می‌دانند.

فهیم، یکی از این راننده‌گان گفت: «راننده‌ها بی‌احتیاطی می‌کنند. جاده‌ها هم تنگ است. در سرگ‌ها کراچی و موترها ایستاد استند به‌همین دلیل حادثات ترافیکی می‌شود.»

پرویز، راننده دیگر نیز افزود: «راه خوب نیست. سرگ بند است. جاده خراب است.» شاهراه کابل کندهار یکی از مرگ‌بارترین شاهراه‌ها از رهگذر رویدادهای ترافیکی است. شماری از راننده‌گان در این شاهراه می‌گویند که اگر مسئولان، جاده‌ها را باز سازی و نو سازی کنند، از رویدادهای ترافیکی جلوگیری خواهد شد. اما مسئولان حکومتی بی احتیاطی راننده‌گان خستگی این راننده‌گان را در هنگام کار علت افزایش این رویدادها می‌دانند. بربنیاد آماری که وزارت صحت عامه به دست می‌دهد، پارسال ۳هزار و ۵۲۰ رویداد ترافیکی در کشور رخ داده‌اند.



Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
کتابـ مـو
د ژونـد ملـګری کـړئ
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

سرلیکنه

## پرله پسې اورلګېدنې او د چارواکو غلفت

په هرات او فراه کې له لویو اورلګېدونو وروسته په کابل کې هم د تېلو پر ټانګرونو او په نورو توکو بار موټرونو باندې اور لګېدلی دی چې د مالي زیانونو تر څنګ یې ځاني زیانونه هم اړولي دي. په دې پېښه کې اووه تنه وژل شوي او ۱۴ نور ټپیان دي. په پېښه کې سوداګرو او د دغو ټانکرونو مالکانو ته هم زیان اوښتی دی. لا هم ددې اور لګېدنې لامل څرګند نه دی.

دا په څو میاشتو کې دریېمه پېښه ده چې کېږي. دا ډول یوه خونړۍ پېښه په هرات کې وشوه چې سلګونه ټانکرونه او په نورو توکو باور موټرونه او لارۍ پکې وسوځېدلې. هغه وخت ویل کېدل چې په ناسم ځای کې ددغو ټانکرونو درول او هلته د اور ضد توکو نشتوالی ددې سبب شوی دی چې دا اور لګېدنه وشي. ځیني کسان پکې سیاسي او نور لاملونه هم دخیل بلل چې حکومت یې په تړاو د پلټنو خبره کړې وه، خو لا هم ددې پلټنو پایله له خلکو سره نه ده شریکه شوې. له هغه وروسته بله پېښه هم په فراه کې وشوه چې ګمرک ته ولاړ موټرونه او ټانکرونه وسوځېدل. دا دی اوس دریېمه پېښه په کابل کې کېږي چې د نورو مالي زیانونو تر څنګ یې څو ساعتونه پر کابل ښار بربښنا هم پرې کړې وه او تر دې ناوړه پېښې دا چې اووه کسان پکې ووژل شول او ۱۴ نور ټپیان شول.

له بده مرغه حکومتي چارواکي یوازې په دې غم کې دي چې موټرونه ګمرک کړي، پیسې ترې واخلي او نور په دې اړه فکر او کار نه کوي چې څنګه دوی ته د درېدو خوندي ځایونه برابر کړي او دوی له خطرونو وژغوري. دوی نه یوازې په دې برخه کې کوم اساسي کار نه دی کړی، بلکې ان په ګمرکونو او ښارونو په دروازو کې فساد، د مامورینو غفلت او بیروکراسي هم ددې سبب شوې چې دا ډول پېښې رامنځ ته شي. حکومت بیا بیا د داسې پېښو د مخنیوي او د تېرو پېښو د پلټنې ژمنې کړې دي، خو له بده مرغه هېڅ نه دي شوي. په داسې یو هېواد کې چې سوداګرو یې له ګڼو ستونزو سره مخ دي، ځیني یې خپلې پانګې باسي، دا ډول پېښې به لا زیات پر سوداګرو او د دوی پر کاروبار منفي اغېز وکړي. کله چې سوداګری د خپل ځان او کاروبار د خوندیتوب احساس ونه کړي، نو له کاروبار لاس اخلي او خپله پانګه بهر ته وباسي. په دې سره له یوه اړخه وزګارتیا زیاتیږي او له بله اړخه دا چاره د هېواد اقتصاد ته سخت زیان رسوي.

حکومتي چارواکي نور باید په دې اړه غفلت ونه کړي. د سوداګرو او د هغوی د مالونو خوندیتوب د حکومت دنده ده. د دوی دنده یوازې دا نه ده چې مالیه او ګمرک واخلي، بلکې دوی باید سوداګرو او د هغوی کارونو ته جدي پام وکړي. شوې پېښې په جدي ډول وڅېړي، لاملونو ته یې جزا ورکړي، سوداګرو ته رسېدلی زیان تر ممکنه بریده جبران کړي او پرې نه ږدي چې دا ډول پېښې تکرار شي.

# اسامه بن لادن؛

## تر مرګ ۱۰ کاله وروسته یې کوم میراث پاتې دی؟

بي‌بي‌سي- پښتو

د مې دویمه د پاکستان ایبټ اباد کې د امریکا د ځانګړو سمندري ځواکونو لخوا د القاعدې شبکې د بنسټګر او پخواني مشر اسامه بن لادن د وژل کېدو له لسم تلین سره برابره ده، چې ویل شوي نوموړی «په نړۍ کې تر ټولو ډېر مطلوب ترهګر» و.

د امریکا لپاره دا ډېر پټ عملیات چې د پاکستان د حکومت له خبرولو پرته یې وکړل، د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د ۱۱مې د بریدونو د غچ اخیستلو او د دې دوسیې د تړلو په مانا وو.

خو د پاکستان لپاره دا عملیات سپکاوی او لوی سرخوږی و.

اسامه بن لادن څوک و؟

اسامه بن لادن د ۱۹۵۷ کال د مارچ په ۱۰مه زیږېدلی، پلار یې د سعودي یو سوداګر او میلیاردر محمد بن لادن او مور یې د سوریې وه، چې د اسامه له زیږېدو وروسته مېړه طلاقه کړه، اسامه تر ۵۰ ډېر وروڼه او خویندې لرلې. اسامه ماشوم و چې پلار یې د الوتکې په یوه پېښه کې ومړ.

اسامه په ماشومتوب کې له فوټبال او پر اس سپرېدو سره مینه لرله، د بروس لي فلمونه به یې ډېر کتل، په اوړي کې به د خپلې مور ټاټوبي سوریې ته تله، غرونو ته به خوت او د یوې ترور له لور سره یې د مینې تار غځولی و.

په ځوانۍ کې یې چټک ګاډي ډېر خوښېدل، خپل موټر به یې په ډېرې چټکۍ چلاوه چې ان یوځل یې ټکر هم کړی. له ښاره لرې بېدیا ته به د ذهني ارامتیا لپاره له خپلو ملګرو او اسونو سره تله.

اسامه په ۱۷ کلنۍ کې د خپلې خاله له لور سره واده وکړ، ویل کېږي چې نوموړی له پنځو مېرمنو لږترلږه ۲۳ ماشومان لري.

بن لادن شرمناک او عادي محصل و، ملکي انجنیري یې لوستلې، په ۱۹۷۹ کال پر افغانستان د پخواني شوروي تر یرغل وروسته پاکستان ته ولاړ.

ځیني رپوټونه وایي، هغه مهال یې د القاعده شبکې د بنسټ ډېره کېښوده چې روسان په افغانستان کې وو.

امریکایي لیکوال وایي، په ۱۹۸۸ کال د الوتکې په یوه پېښه کې د بن لادن د ناسکه ورور سالم مړینه سخت دریځی ته د اسامه د اوښتو لوی لامل و.

په ۱۹۹۰ کال خلیج، په تېره سعودي ته د امریکایي ځواکونو استول او مېشتېدل پر اسامه ښه ونه لګېدل او دا کار یې وغانده. دا ځواکونه له کویټ څخه د عراقي ځواکونو د شړلو لپاره استول شوي وو.

همدا وو چې بن لادن د امریکا پر ضد د جهاد ناره پورته کړه، خو هغه مهال امریکا په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد د ښکېلاک پر وړاندې د افغانانو له مقاومت سره میلیاردونه ډالر مرسته وکړه، اسامه بن لادن هم د افغان مجاهدینو په لیکو کې جنګېده.

د ۲۰۱۱ کال د مې په دویمه، د امریکا ځانګړو ځواکونو د پاکستان ایبټ اباد کې پر هغه کور برید وکړ، چې اسامه پکې اوسېده او هغه یې وواژه.

اسامه د پاکستان له پلازمېنې اسلام اباد یوازې ۵۰ کیلومتره لرې اوسېده، خو ایبټ اباد کې د پاکستان د پوځي اکاډیمۍ له سترګو ډېر لرې او پنا نه و.

د اسامه له وژل کېدو لس کاله تېر شوي، خو لاهم جهادي ډلې او القاعده خپل فعالیتونه لري.

د میراث غصبول

تېر کلونه کابو په هره قاره کې د سخت دریځو د بریدونو شاهدان وو، په اروپا او امریکا، منځني ختیځ، سوېل ختیځ اسیا او افریقا کې.

د بي‌بي‌سي د امنیتي چارو د خبریال فرانک ګارډنر د څو کلونو مخکې دا پوښتنه چې د بن لادن میراث که پاتې وي، څومره پر نړۍ اغېز کولی شي؟

د اسیا او ارام سمندر د فکري موسسې ساجن ګوهېل وایي: «د بن لادن وژلو یو میراث پرېښود... تر یوه حده دا میراث اسلامي دولت نومې ډلې غصب کړ او تر خپل قلمرو بهر یې ترهګریز بریدونه پیل کړل».

د ډېرو لپاره له ۱۹۸۹ تر ۲۰۱۱ کال پورې د اسامه بن لادن ۲۲ کلونه ښایي د سخت دریځې ایډیالوژۍ له اړخه د اسلامي دولت نومې ډلې له اوسنۍ تګلارې سره چندان توپیر ونه لري.

القاعده شبکه او اسلامي دولت نومې ډله دواړې سخت دریځې دي او هره بله سني ډله یا شخص چې له دوی سره غاړه یو نه سي، دوی یې له اسلامه وتلې ګڼي.

دواړو ډلو ځانمرګي بریدونه کړي او د یوه تکتیک په توګه په ډله ییز ډول ولسي وګړي وژني، ډیموکراسي کفري نظام ګڼي چې له اسلامي شریعت سره هېڅ اړخ نه لګوي.

اوږدمهاله تګلاره

خو دواړې ډلې توپیر هم سره لري، که بن لادن (ابو عبدالله؛ لکه پلویان یې چې بولي) ژوندی وای، ارومرو به د اسلامي دولت نومې ډلې له تکتیکونو او خوځښتونو سره په اختلاف کې وای.

بن لادن د عقل زیږنده پر اوږدمهالې تګلارې تکیه نه کوله چې نورو نسلونو ته هم ولېږدي، هغه فکر کاوه چې د سپټمبر د ۱۱مې بریدونه به د امریکا او لوېدیځ د کمزورې کولو لامل وګرځي او په دې سره به په منځني ختیځ کې د سیکولر عربي نظامو له ملاتړه لاس واخلي او دا کار به په پای کې واک ته د جهادي ډلو رسېدو او اسلامي خلافت جوړېدو لپاره لاره هواره کړي.

بن لادن پر دې اند و چې ښایي دا کار لسیزې وخت ونیسي او ان د ده په ژوند کې کېدای شي شاید رامنځ ته نه شي.

تر مرګ مخکې، داسې نښې وې چې ګڼي اسامه بن لادن او پاکستان کې د القاعدې مشرتابه په عراق کې د القاعدې د څانګې چې وروسته اسلامي دولت ډله ترې جوړه شوه، له حده ډېر تاوتریخوالي سره اختلاف درلود.

ګوهېل وایي: «اسلامي دولت نومې ډلې قصداً سني مسلمانان (ښځې او ماشومان) وژل، په سعودي کې یې ځیني جوماتونه والوځول چې په یوه اندازه سني او شیعه ګان ووژني».

دې زیاتوي: «اسلامي دولت نومې ډله په جرمي فعالیتونو کې لکه د انسانانو او ماشومانو قاچاق او سوداګرۍ کې هم ښکېله وه. د دې ډلې دروازه د ښځینه جنګیالیو ګومارلو لپاره تل پرانیستې وه، له دې ټولو سره القاعده شبکې مخالفت درلود».

د ۲۰۱۱ کال د مې په دویمه د اسامه له وژل کېدو څو کاله وروسته، تاریخپوهانو القاعده شبکه نړدې له منځه تللې بللې ده.

خو مشر یې ایمن الظواهري هومره جذاب شخصیت نه لري چې پر نورو اغېز وکړي او نوي کسان ورجذب کړي.

د پاکستان په قبایلي سیمو کې د امریکایي استخباراتو (سي ای اې) د بې پیلوټه الوتکو د لانجمنو بریدونو ډېرېدو د بن لادن ملګري تل په ازمېښت کې کړل او د لندن د چاودنو په څېر د بریدونو لپاره یې د دې شبکې پلانونه کمزوري کړل.

خو په سومالیا کې د الشباب او په یمن کې د القاعده په څېر فرعي څانګو په انفرادي ډول خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړ.

د سپټمبر د ۱۱مې له بریدونو ۲۰ کاله وروسته، اوس امریکا له افغانستانه د پاتې پوځیانو ایستل پیل کړي، چې د امریکا د پخواني ولسمشر جورج ډبلیو بوش د واکمنۍ پر مهال له ترهګرۍ سره د مبارزې مشر ریچرډ کلارک په وینا، د نړۍ پر تر ټولو لوی ځواک د بن لادن ګوزار «افغانستان کې د وینې تویېدو او اوږدې جګړې پیلېدو لامل شو».

وروستی وصیت

د بن لادن د وروستیو وینااوو او اسنادو له برملا کېدو وروسته په ډاګه شوه چې هغه تر خپل مرګ وروسته د شتمنۍ او ملکیت د وېشلو وصیت کړی و، چې ډېره برخه شتمني به یې د نړیوال جهاد پر دوام لګول کېږي.

دا وینا د هغو ۱۱۳ اسنادو یوه برخه ده چې د بن لادن پر پټنځای د امریکا د ځانګړو ځواکونو د عملیاتو پر مهال تر لاسه شوي دي.

د امریکا استخباراتي چارواکو ویلي، ښایي دا د بن لادن وروستی وصیت وي.

اې بي سي ټلوېزیون او رویټرز خبري اژانس په ځانګړې توګه دغه اسناد تر لاسه کړي او له عربي ژبې یې انګلیسي ته ژباړلي. همدا ده چې د امریکا څارګرو ادارو یې د ۲۰۱۵ کال له مې میاشتې راهیسې محرمیت لرې کړ.

## امریکايي ځواکونو د هلمند په شورابک کې خپله پوځي اډه افغان ځواکونو ته وسپارله

د راپوروونو له مخې، په هلمند ولایت کې د «انتونیک» په نوم د امریکایي ځواکونو یوه پوځي اډه رسماً افغان ځواکونو ته وسپارل شوه. د امریکايي ځواکونو دغه پوځي اډه د هلمند ولایت په شورابک ولسوالۍ کې وه، چې د افغان چارواکو په وینا، افغان ځواکونو ته تسلیم شوه.

په هلمند ولایت کې د ۲۱۵ میوند قول اردو په اعلامیه کې په دې اړه ویل شوي: «د ۲۱۵ میوند قول اردو په قرارګاه کې د انتونیک اډې د تسلیمۍ مراسم د ۲۱۵ میوند قول اردو د رهبرۍ او امریکایي ځواکونو په شتون کې د افغان دفاعي ځواکونو لخوا ترسره شول.»

میوند قول اردو ویلي چې انتونیک اډه د افغان ځانګړو ځواکونو د یوې قرارګاه په توګه په همدې نوم سره یادېږي، چې په وینا یې، دغه قول اردو به له یادې اډې څخه د تروریزم پر وړاندې خپل عملیات چټک او په سویل لوېدیځ کې به د وسله والو ځالې په نښه کړي.

د یادې اډې تر سپارلو وروسته د امریکایي ځواکونو بیرغ راکښته شو او پر ځای یې د افغانستان ملي بیرغ ځوړند شو. دا په داسې حال کې ده چې ورمه ورځ له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو بهیر رسماً پیل شو، چې د امریکا متحده ایالتونو د ولسمشر جو بایډن د پرېکړې په اساس د روان کال د سپټمبر میاشتې تر یوولسمې به بشپړه شي.



په ورته مهال د افغانستان د دفاع وزارت سرپرست جنرال یاسین ضیا وایي چې ټاکل شوې تر څو ورځو د بهرنیو ځواکونو اډې افغان سرتېرو ته وسپارل شي. افغان چارواکو دغه راز ویلي چې بهرني ځواکونه لومړی له خپلو کوچنیو نظامي اډو بګرام نظامي اډې ته راټولېږي او له همدغه ځایه بیا خپلو هېوادونو ته ستنېږي. دغه راز چارواکي وایي چې بهرني ځواکونه به خپله زیاته اندازه وسلې او مهمات چې په افغان جګړه کې یې کارولي، افغان ځواکونو ته وسپاري.

# تونددلاري زمونږ د ارزښتونو برخه نه وه

عبدالوحيد وحيد

افراطيت، تونددلاري او راډيکاليزم هغو کړنو، نظرياتو، چلن، ذهنيت او ټولنيز تعامل ته ويل کېږي چې پاروونکی اړخ او له عامه ذهنيت سره په تقابل کې قرار ولري. يا په بل عبارت؛ سياسي، نظرياتي، مذهبي، ټولنيزو يا اقتصادي اهدافو ته د رسيدو لپاره تاوتريخوالي ته د مشروعيت ورکولو، هڅولو، توجيه کولو، يا ملاتړ کولو تگلارې ته افراطي ذهنيت ويل کېږي.

تر هغو چې افراطيت يوازې يوه مفکوره، د ستونزو د حل لپاره احساساتي او جزباتي تيوري وي، جنايت نشو ورته ويلای، بلکې د ټولنيز جبر، بې عدالتی، محروميت محکوميت، د سرچينو ناسم ويش، تبعيض، په ځانگړې توگه عقيدې او ژوند ته د متوجه بالفعل او يا هم بالقوه گواښ پر وړاندې توند غبرگون او يا هم په بله اصطلاح د ځينو تونددلارو ډلو لخوا د ځوانانو له احساساتو څخه ناوړه گټه پورته کول يې گڼلای شو.

د افراطي مفکورې د ختمولو په لار کې د زور کارول او عسکري گامونه پورته کول معکوسې پايلې درلودلای شي. د افراطيت د ختمولو لپاره په جنگي بنيادونو د گامونو پورته کولو پر ځای د منظمو، متوازنو او د عاطفي احساس پر بنسټ ولاړو نرمو گامونو پورته کولو ته سخته اړتيا ده.

د متوازن پرمختگ د فرصتونو نشتون، د محروميت احساس، تبعيضي چلن، فقر، د امنيتي ارگانونو لخوا ناوړه چلن، د افراطي ذهنيت لرونکو افرادو او جرمي شاليد لرونکو اشخاصو تر منځ توپير نه کول، په پراخه کچه عسکري عمليات، پر ديني مراکزو باندې د ترهگرۍ شک کول، ترينگلې حکومتولي، اداري فساد، له قانون څخه د معافيت دود، د ټولنيز عدالت نشتون، د غرب لخوا د ډيموکراسۍ په نوم د خپلو عنعنو او دودونو د منلو لپاره بېځايه فشار، په جگړه کې ملکي تلفات، انساني ژوند او عقايدو ته د بالفعل او بالقوه گواښونه؛ افراطيت ته د ودې ورکولو لپاره زانگو جوړوي.

له اوسنيو جگړو مخکې د افغانانو ملي دودونه او کلتور هم د منځلارې پر اصولو باندې ولاړ وو. په کلتوري برخه کې يې په دوستي او دښمنۍ دواړو کې د اعتدال خوا نيولې وه. په دواړو برخو کې يې سرې شنې او زېړې کرښې درلودې. دښمني يې کوله خو معيارونه يې هم درلودل. د بېلگې په توگه، په مسجد، هديره، کور ته راغلي، د لمونځ کولو پر مهال د تورسرو او ماشومانو پر وړاندې يې د سر دښمن هم نه واژه. د سولې لپاره يې ځلې او د حل باعزته لارې درلودې. د وژل شوي دښمن سترگې به يې پټولې، څادر به يې ورباندې غوړاوه او د مړ جسد توهين په افغاني دود کې ستر پور درلوده. اوس خو مو هر څه له لاسه ورکړل. دښمني مو خيالي ده. د يوه دښمن د وژلو لپاره د سلو بېگناه وگړو وژل هم موجه گڼو.

زه په افغاني ټولنه کې د افراطي ذهنيت د خپلولو رجحان په هکله درې ستونزې يادوم:

لومړی؛ افغانان معتقداتو او مقدساتو ته گواښ جدي نيسي او پر وړاندې يې سخت غبرگون ښيي. گواښ کله په رښتينې توگه شتون لري او کله هم د پاروونکو تبليغاتو له اغيزو لاندې راځي او افراطيت ته مخه کوي. کيدای شي لامل يې ديني مقدساتو ته د سپکاوي په اړه له اسلامي ټولنې سره د غربي ټولنې فرهنگي او کلتوري توپيرونه وي. په غربي ټولنو کې دين او عقايدو ته سپکاوی دومره جدي نه نيول کېږي.

دويمه ستونزه د عسکري ستراتيژۍ له مخې د ځينو هېوادونو د استخباراتي ادارو لخوا د دښمن د ماتولو په موخه د ولسي احساساتو را پارول او د جهاد فتواوې د ابزارو په توگه کارول هم د افراطيت په پراختيا کې غوښن رول لري. پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد د يرغل پر مهال د امريکا متحده ايالاتو د پاکستان په مرسته د افغانانو له کلک عزم او قربانۍ څخه ښه گټه پورته کړه. خپل پياوړی رقيب شوروي اتحاد يې مات کړ او سره جگړه يې وگټله.

دريېمه ستونزه د افغانانو پياوړې احساساتي ځانگړتيا او د نړيوالو دوه مخي چلن دی. د ثور اوومې خونړۍ کودتا د ديني او ملي احساساتو پاروونکی پيل و، د خلق او پرچم د واک پر مهال د عامه خلکو وژلو، ځپلو او شړلو افراطي کړنو سخت غبرگونونه له ځان سره درلودل او بالاخره پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد د ځواکونو د يرغل پر وړاندې د افغانانو له سپېڅلو ديني او حماسي احساساتو څخه گاونډيانو، غربي نړۍ په ځانگړې ډول امريکا گټه پورته کول، افراطيت ته د ودې ورکولو تسلسل و.

پر افغانستان باندې د امريکا يرغل، له ترهگرۍ سره د جگړې تر عنوان لاندې د ملکي تلفاتو لوړه کچه، د گوانتنامو په بدنام زندان کې د ډېرو کلونو لپاره د بېگناه خلکو ساتل، د امريکايانو لخوا د افغانانو دودونه او کلتوري ځانگړتياوې تر پښو لاندې کول، شپنۍ چاپې، د کورنۍ د مشرانو د سترگو پر وړاندې د هغوی د ځوانانو وژل د انتقام په موخه افراطيت ته د ودې ورکولو هغه موارد دي چې مونږ ورڅخه انکار نشو کولای.

له شک پرته د دوو لسيزو مخکې وختونو په پرتله په افغانستان کې د افراطيت او د ترهگرۍ د گواښونو اوسنۍ کچه لوړه ده. که همدغه صورت حال و ارزوو، نو پوهيږو چې د افراطيت لوړه کچه انفعالي اړخ لري او يا هم په بل عبارت، د يرغلگرو ناوړه کړنو ته د افغانانو طبيعي غبرگون دی. دلته يو وضاحت بيا هم اړين گڼم. هغه دا چې کيدای شي افراطي ذهنيت د سپېڅلو احساساتو ترجماني وکړي؛ مگر ډېر ځله احساسات او عيني واقعيتونه له يو بل سره توپير لري. زه د پورتنيو لاملونو پر بنسټ زمونږ په ټولنه کې افراطيت ته د مشروعيت ورکولو هڅه نه کوم. افراطيت په هرحال نه يوازې زمونږ له ديني احکامو سره اړخ نه لگوي، زمونږ د ټولنيزو پرمختگونو مخه هم ډب کوي.

د دغو ستونزو د ختمولو لپاره د لاندې اقداماتو تر سره کول د وخت اړتيا گڼم:

الف؛ د تاوتريخوالي او تونددلارۍ د ريښو ايستلو په برخه کې لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله مربوطو هڅو او تگلارو ته اړتيا ده.

ب؛ پر ترهگرۍ او تونددلارۍ باندې اخته سيمو کې د باندنيو لاسوهنو د مخنيوي لپاره گامونه پورته کول حتمي دي.

ج؛ له افراطيت سره د لاس او گريوان ټولنو او چارواکو ترمنځ د مبارزې په تگلارو کې د مشارکت، همغږۍ او گډې همکارۍ روحيه پالل او ساتل د مبارزې د بريا لپاره ارزښتمنه لاره ده.

د؛ په اوږدمهاله ستراتيژۍ کې د تونددلارې ذهنيت د بيا راټوکېدو د مخنيوی په تړاو، ژوند او عقايدو ته د گواښونو له منځه وړل، متواتر او متوازن پرمختيايي کارونه سرته رسول، کاري فرصتونه برابرول، د بېوزلۍ له منځه وړل او په اغيزمنه ټولنه کې د زده کړو د کچې لوړول اړين دي.

ه؛ په اغېزمنه سيمه او ټولنه کې د جگړه ييزو عملياتو په پرتله د ستونزې رواني او نفسياتي درملنه ضروري ده.

که موضوع را لنډه کړم، نو د تاريخ په سينه کې داسې واقعيتونه ثبت دي چې زمونږ په هيواد کې ډېر حاکمان په ځانگړې ډول خلق او پرچم، مجاهدين، طالبان او د اوسنۍ ډيموکراسي ممثلين ټول له خپلو اړونده پولو څخه اوښتي او د افراطيت خوا ته تللي دي. کيدای شي چې په حاکمه ډله کې د ظرفيت ټيټوالی، د ملت پر ديني او ملي ريښو باندې ناخبري، د سياسي وضعيت په ارزونه کې پاتې راتلل، د نورو د حذف کولو هڅه، د واک انحصار، پر افغان عنعنوي ټولنه باندې د پردي دود او نظرياتو تپل، د واک لپاره د مقدساتو په نوم د عامو خلکو احساسات راپارول او د پرديو لمسون يې بنسټيز لاملونه وي.

# بوړنوونکې پېښې او د حکومت بې پروايي؛

## په کابل کې اورلگېدنې د درنو مالي زيانونو تر څنگ ۲۳ کسانو ته مرگ ژوبله واړوله



په هېواد کې په وروستيو کې د پرله پسې مرموزو اورلگېدنو په دوام تېره شپه د کابل په شمالي دروازه کې يوه درنه اورلگېدنه رامنځ ته شوې ده. د معلوماتو له مخې، په پېښه کې ځاني او مالي زيانونه اوښتي او تر څنگ يې خلکو ته سختې اندېښنې هم پيدا کړې دي.

عام وگړي د دغه ډول پېښو په اړه ډول ډول غبرگونونه ښيي، خو تر څنگ يې په مشرانو جرگه کې سناتوران هم حکومت د دې پېښو په اړه په بې پروايۍ تورنوي. دوی وايي، بايد ژر تر ژره روښانه شي چې د دغو پېښو لامل څه دی او کومې کړۍ يې تر شا لاس لري.

تېر ماښام د کابل د شکردرې ولسوالۍ اړوند په شمالي دروازه کې درنه اورلگېدنه رامنځ ته شوه. دغه اورلگېدنه لومړی د تېلو په يوه ټانکر کې رامنځ ته شوې، له دې ځايه نورو ټانکرونو ته غځېدلې ده، باروړونکي موټر يې سوځېدلي او د تېلو تر يوه پمپ پورې د دې اور لمبې رسېدلې دي. ويل کېږي چې په دې پېښه کې لسگونه ټانکرونه سوځېدلي، خو دقيقه شمېره يې نه ده په ډاگه شوې. يوازې دا نه ده، بلکې د دغه اور له امله گڼ باروړونکي موټرونه، د خلکو کورونه او يو د تېلو پمپ ويجاړ شوي دي. له دې ورهاخوا بوړنوونکې خبره دا ده چې دې پېښې ۲۴ هېوادوالو ته مرگ ژوبله اړولې ده. ځينې سرچينې په پېښه کې د نهو کسانو او ځينې بيا د لسو کسانو د وژل کېدو خبره کوي. کورنيو چارو وزارت وايي چې په دې پېښه کې ځوارلس کسان ټپيان دي، خو د سيمې اوسېدونکي او عيني شاهدان بيا دا شمېرې لوړې ښيي.

دا لومړۍ پېښه نه ده چې خصوصي سکتور يا افغان سوداگرو ته ميليونونه افغانۍ زيان اوړي، بلکې تر دې وړاندې د هرات او فراه په گمرکونو کې هم ورته پېښې رامنځ ته شوي چې افغان سوداگر يې سخت زيانمن کړي دي. د دغو پېښو تر ټولو بوړنوونکې يې د هرات په گمرک کې اورلگېدنه وه، چې نږدې زر د تېلو ډک ټانکرونه او باروړونکي موټر پکې د اور د لمبو خوراک شول. سره له دې چې دغه پېښې په وروستيو کلونو کې تر ټولو بوړنوونکې او خلکو ته د اندېښنې وړ بلل شوي، خو تر دې دمه حکومت په دې اړه هېڅ راز معلومات له خلکو سره نه دي شريک کړي او نه يې هم د لامل په روښانه کولو بريالی شوی دی.

د ملي شورا د سنا جرگې گڼو غړو هم تېره ورځ به خپله عمومي غونډه کې حکومت د دغه ډول پېښو پر وړاندې په بې غورۍ تورن کړ او دا مسايل يې د جدي اندېښنې وړ وبلل. دوی وويل چې ښايي ځينې کړۍ د دې پېښو تر شا وي او وغواړي چې په دې توگه د افغانستان اقتصاد ته زيان ورسوي، نو له همدې امله حکومت ته په کار ده چې ژر تر ژره لاس په کار شي او د يادو پېښو ټول اړخونه روښانه کړي. د مشرانو جرگې غړی انجنير محمد خان وايي، حکومت دې دا پېښې وپلټي، څو روښانه شي چې دا تخنيکي ستونزې دي او که نه د دښمن ورانکاره فعاليتونه دي. د ده په وينا: «دا بايد حکومت روښانه کړي، چې د دښمن کار دی که تخنيکي ستونزه ده».

د مشرانو جرگې غړو دغه راز حکومت په گمرکونو او وردوي دروازو کې په کم کارۍ او فساد تورن کړ او په خبره يې، د دوی د بې پروايۍ له امله افغان سوداگرو ته مالي زيانونه اوړي چې بيا يې وروسته لامل هم نه روښانه کېږي او پلټنه يې هم نه کېږي. د مشرانو جرگې رييس فضل الهادي مسلميار وويل چې دا پېښه بايد په هر اړخيزه توگه وڅېړل شي.

د مشرانو جرگې لومړی مرستيال محمد علم ايزديار بيا وايي چې حکومت هېڅ ځان د ورته پېښو په اړه مسوول نه بولي او نه هم دې ته تيار دی چې د ولس پوښتنو ته ځواب ورکړي. د ده په خبره، حکومت دې ژر تر ژره ولس ته د يادو پېښو په اړه وضاحت ورکړي او هغه دې په هر اړخيزه توگه وڅېړي.

# د واشنگټن او مسکو ترمنځ د کړکېچونو په دوام، د امريکا د بهرنيو چارو وزير اروپا ته سفر پيل کړی

د واشنگټن او مسکو ترمنځ له وروستيو ناندريو او کړکېچو وروسته د امريکا د بهرنيو چارو وزير انتوني بلېنکن اروپا ته تللی او په لندن او کيف کې به غونډې او خبرې وکړي.

بلېنکن به لومړی په لندن کې د اوو هېوادونو د بهرنيو چارو له وزيرانو سره وگوري او بيا به د اونۍ په پای کې اوکراين ته ولاړ شي. د اوکراين حکومت د خپل حاکميت په اړه د روسيې له لوري له گواښونو سره مخ دی او ټاکل شوې چې بلېنکن به د اوکراين حکومت ته د امريکا د مرستو ډاډ ورکړي.

په لندن کې د جي-۷ هېوادونو د بهرنيو چارو له وزيرانو سره به د بلېنکن خبرې د دغو هېوادونو د مشرانو د را روانې غونډې په ترتيباتو وي چې د جون په مياشت کې په کارنوال کې کېږي. وزيران به د کروناويروس او د اقليم له بدلون سره د مبارزې تر څنگ پر يو شمېر هغو ننگونو هم وغږېږي، چې دوی ورسره مخامخ دي.

د امريکا د بهرنيو چارو وزير به د برېټانيا له لومړي وزير بورېس جانسن او د دغه هېواد د بهرنيو چارو له وزير ډومنيک راب سره هم ويني. نوموړی به دغه راز په کيف کې د اوکراين له ولسمشر ويلاديمير زيلېنسکي او ځينو نورو لوړپوړو حکومتي چارواکو سره ويني. د هغه د دغه سفر يوه موخه دا ده، چې د روسيې د گواښ پر وړاندې د اوکراين حکومت ته د واشنگټن د مرستو په اړه ډاډ ورکړي.

دا په داسې حال کې ده چې روسيې په ۲۰۱۴ز کال کې کرېميا ټاپووزمه له اوکراين څخه جلا کړه او په دې وروستيو کې يې له اوکراين سره پر گډه پوله کې پوځي حضور هم د پام وړ زيات کړی و.


د امريکا د بهرنيو چارو وزارت وياند نېډ پرايس په يوې اعلاميې کې ويلي چې بلېنکن به يو ځل بيا د ده په خبره، د اوکراين په حاکميت او ځمکنۍ بشپړتيا باندې د روسيې د دوامداره يرغل په اړه د امريکا په ثابتو مرستو ټينگار وکړي.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسۍ پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### شپږمه برخه
### نوې لويه لوبه




زما سوال به له جنرال صېب څخه دا وي چې له ټرمپ سره د معاملې لپاره بايد څه ډول وړانديز وشي؟ هره لاره چې هغه ولوبوي پايله به يې دا وي، چې پر پاکستان فشار راوستل شي. کېدای شي عمومي موخه هماغه تروريزم او د حقاني شبکه وي يا هر هغه څه چې د دوی په مغزو کې دي. کېدای شي دغه فشار پاکستان ته کوم زيان و نه رسوي، ځکه کله چې ستا تمرکز په يوه څه وي او دوی غواړي بل څه، نو حتماً به يې ته هم په بدل کې يو څه ترلاسه کوې.

په منطقي لحاظ کېدای شي په تاسې هم فشار وي. پاکستان به اړ وي چې ووايي، د هغوی په هکله څه؟ دا هغه څه دي چې معمولاً پېښېږي.آيا ټرمپ به بل هولبروک وټاکي؟ آيا د هغو په مغزو کې بيا د بل جنرال ټاکل شته؟ کله چې هولبروک ټاکل شوی و، هند هم د هغه د تاوتريخوالي برخه و. موږ اعتراض وکړ او ومو ويل، موږ په دې منځ کې ځنګه راغلو دا د افغانستان او پاکستان کار دی. نو ځکه هند ترې و ايستل شو، خو ځوک څه پوهېږي چې دا ځل به څه کېږي. د خلکو لېوني مغزونه، هېڅ شک په دې کې نشته.

سېنها: خو ټرمپ د زړو تګلارو په څېر کار نه کوي.

دولت: هغه به دواړه پېژندل شوی او نا پېژندل شوی وي. د موږ پخوا کې زموږ خلک لېواله دي. لومړی وزير مودي په ځانګړې توګه فکر کوي، چې د ده ملګری هلته ځای پر ځای شوی دی او ځيني يې بايد خوښ کړي.

ټرمپ د بهرنيو چارو وزارت لپاره يو تجار(ټېلرسن) وټاکلو، چې نژدې ملګری يې دی. دا به سمه وي، کېدای شي مودي د خوشاله تجار سره په معامله کې خوښ وي. خو په ټيم کې ډېر جنرالان هم شته چې پرته له شکه پاکستان به ګټه پکې کوي.

دغو جنرالانو په افغانستان کې کار کړی دی او دوی دا تيوري لري چې پاکستان څه کوي. موږ په دې هم پوهېږو چې کلونه کېږي پاکستان له پنټاګون سره ښې اړيکې لري. د دفاع وزير جميز متيس د سينټکوم مشر و او پاکستان يې پېژني.

جنوبي ډلې دا له ياده ايستلې ده، چې د پاکستاني پوځ او پنټاګون تر منځ معمول اړيکې دي. هغه اړيکې لا هم شته او لا هم په ښه بڼه دي. کله چې مشرف واک ته ورسېد، جورج ټنټ پاکستان ته سفر وکړ، دا چې هغه نور څه پيغام درلود، هغه به و. خو واضح دا وه چې هغه د يوه جنرال د واک ته رسېدلو لپاره هلته راغلی و.

دوراني: که چېرې ټرمپ د خپلو بهرنيو پوځي پانګونو څخه د خلاصون لپاره کار ونکړي، يا دا کارونه بل ډول ترسره نکړي، د امريکا دننه او له خپلو متعهدينو سره به يې ستونزې زياتې شي. ظاهراً زموږ لپاره سم ښکاري، ځکه له دې زيات د وروری برخورد نشته.

جنرالان دواړه لارې لوبولی شي. دوی په افغانستان کې زموږ پر ستونزو پوهېږي او پر دې هم پوهېږي، هغه څه چې له موږ غوښتل کېږي، ولې يې نشو کولی، ځينو يې دا منلې ده. متيس په افغانستان کې کار کړی دی او زه تمه لرم چې هغه به خپلې دوه ګونې لوبې ته دوام ورکړي. تاسې که موږ سره مرسته کوئ او کنه. زه د هغوی د فشارونو پر علتونو او محدوديتونو او هم د خپلو کړنو پر محدوديتونو پوهېږم.

زه فکر کړم، داسې ملګرتيا به تل نه وي، خو هيله لرم چې دولت (ASD) سم وي او امريکايي جنرالان د پاکستان په هکله ښه نظر ولري، نه يوازې دا چې موږ پخوا له دوی سره ښې اړيکې درلودلې، بلکې د دې لپاره هم چې دوی د افغانستان او پاکستان په اړيکو کې رښتينې ارزونه لري. د دوی په سيسټم کې هر وخت بد پوځيان د ښو پوځيانو ځايناستي دي. هو ښکاره ده چې فشار به وي. خو نور يې يوازې تر هغومره فشار لاندې راوستی شي؛ څومره چې ته اجازه ورکوې. که ته «نه» ووايې، له غالمغال پرته نور څه کولای شي؟ يو څو بمونه دلته او يو څو ډرون(بې پيلوټه الوتکې) هلته. په (۲۰۱۱. ز) او (۲۰۱۲. ز) کلونو کې موږ د دوی ځمکنۍ اړيکې بندې کړې، امريکايان بېرته له موږ سره د هوکړې لپاره د ميز سر ته راستانه شول.

دولت: پاکستان پوهېږي چې له امريکا سره څنګه اړيکې جوړې کړي او دا کار يې ډېر وخت کړی دی، دوی د امريکايانو په کمزورۍ پوهېږي.

پاکستان دا هم کولای شي چې لکه اسامه بن لادن غونډې يو کس دوی ته وسپاري او په بدل کې يې هرڅومره چې دوی غواړي، هغومره پيسې ترلاسه کړي. دا بيا هند حيرانوي. همداسې يو څه به وشي او هغه به يو اړخيز نه وي.

دا زموږ ستونزه ده. هر څه سم ښکاري، خو کله چې د اړيکو وخت راشي بيا يې موږ په جوړولو کې ښه نه يو. اوس داسې ښکاري چې موږ يوه ځانګړې اړيکه لرو. موږ د هغې په بدل کې څه ترلاسه کړي دي؟ په جورجاړي کې تاسې له روسيې سره خپلې اړيکې ټينګې کړې دي او د چين سره ځوک نشته او د ګاونډيو سره هم ښې اړيکې نه لرو.

موږ تمه لرو چې له امريکا سره ستراتېژيکه ملګرتيا جوړه کړو. کېدای شي د امريکايانو په مغزو کې دا وي چې هند به د چين پر وړاندې يو توازن رامنځته کړي. دا يو خيالي فکر دی. ځکه (الف) موږ په دې موقف کې نه يوو او (ب) په ډيلي کې به هېڅ حکومت د هېڅ ټکي په سر د چين پر وړاندې و نه درېږي او نه به هم د بل چا لپاره نيابتي جګړه وکړي. **دوام لري...**

# ناسا

حشمت الله نوري

ناسا د امريکا فضايي او هوانوردي سازمان دی. کله چې سړه جګړه پيل شوه او روسيې د سپوتنيک په نامه سپوږمکۍ فضا ته ولېږله، امريکا په دې فکر کې شوه چې خو ځان ته يو فضايي ملي سازمان ولري. ناسا په ۱۹۵۸ کال کې د هغه وخت د ولسمشر ايزونهاور په لاسليک له اوړدو پوښتنو او ګروېږنو وروسته جوړ شو. توماس کيت ګلنان په هغه وخت کې د ناسا لومړنی مدير وټاکل شو، مرستيال يې هم هيولاتيمر ګومارل شوی و، د ناسا رسمي فعاليت د ۱۹۵۸ کال د اکتوبر په لومړۍ نېټه پيل شو. تر ټولو لومړنۍ سپوږمکۍ يې اکسپلورر ۱ وه.

ناسا خپل لومړنی ماموريت پيل کړ، د لومړي ځل لپاره يې امريکن ايکس ۱۵ له اتو فضانوردانو سره د ځمکې مدار ته ولېږه. د ۱۹۶۲ کال د اپرېل په ۱۲مه يوري ګاګارين د روسيې له لوري فضا ته ولېږل شو او په دې توګه نو هغه لومړنی کس و، چې په فضا کې ښکته شو. يوه مياشت وروسته امريکا هم آلن شپارد، مرکوري رادستون د مرکوري د پروژې له لارې فضا ته ولېږل او په دې توګه دوی لومړني امريکايان وو چې فضا ته ولاړل.

وروسته ناسا کمپنۍ د آپولو پروژه پيل کړه، دا د امريکا او نړۍ په علمي تاريخ کې تر ټولو مشهوره او پېژندل شوې پروژه ده. د ۱۹۶۹ کال د جون په ۲۱مه نيل آرمسترانګ او باز آلدرين د لومړي ځل لپاره د آپلو د ماموريت په لړ کې د سپوږمۍ پر مخ ګام کېښود. په دې توګه دوی لومړني کسان شول چې په فضا کې يې ګام کېښود. د آپولو پروژې په اوږدو کې ۱۲ نارينه وو پر سپوږمۍ ګام اېښی دی. د آپولو ۱۷ ماموريت له تر سره کولو وروسته هېڅ انسان تر اوسه سپوږمۍ ته نه دی تللی او سپوږمۍ ته د انسانانو وروستی سفر و.

وروسته ناسا خپلې پروژې پراخې کړې، د امريکا د حکومت پوره ملاتړ ورسره و، له ۱۹۸۱ تر ۲۰۱۱ کال پورې يې د شاتل په نامه پروژه پر مخ بېوله، د دې پروژې په لړ کې ناسا فضا ته ۱۳۵ پروازونه درلودل، چې په لړ کې يې د چلنجر او کلمبيا په څير فاجعې هم رامنځ ته شوې. ناسا په نړيوال فضايي سټېشن کې شريکه ده، چې له ناسا پرته ۱۵ نور غړي هم لري. د دغه سازمان ۱۱ غړي په اروپايي هېوادونو پورې تړلي دي. ناسا خپل ماموريتونه د سپوږمکيو له لارې تر سره کوي چې تر ډېره يې سپوږمکۍ له ځان سره فضانوردان لېږدوي، خو داسې سپوږمکۍ هم لري چې کوم انسان نه لېږدوي؛ بلکې د کمپيوټر له لارې کنټرولېږي.

ناسا د شوروي اتحاد له فضايي سازمان سره په رقابت کې را پيدا او وده يې وکړه، کله چې يوري ګاګارين فضا ته ولاړ او په دې توګه يې ځان ته د لومړني داسې انسان لقب خپل کړ، چې د ځمکې پر مدار راګرځېدلی، يوه مياشت وروسته ناسا هم همدا کار وکړ او آلن شپارد يې د کوري فضايي پروژې په لړ کې فضا ته واستاوه. هغه د رادستون ۳ فضايي بېړۍ په مرسته فضا ته واستول شو او د ۱۸۷ کيلومترو په لوړوالي، ۱۵ دقيقې په فضا کې ودرېد. په دې توګه نو هغه لومړنی امريکايی شو چې فضا ته تللی دی.

په ۱۹۶۲ کال کې جان ګلن د مرکوري اطلس ٦ فضايي بېړۍ په واسطه فضا ته ولېږل شو او ۲٦۵ کيلومتره د ځمکې له ساحې لرې شو، هغه په پنځو ساعتونو کې درې ځله د ځمکې تر مدار را وګرځېد، په دې توګه نو لومړنی امريکايي دی چې تر ځمګه را ګرځېدلی دی.

تر مرکوري پروژې وروسته چې موخه يې د ځمکې پر مدار د انسان راګرځېدل او له روسيې سره رقابت کول وو، ناسا نورې پروژې هم طرحه کړې چې په ټولو کې يې ډېرې برياوې تر لاسه کړې. همدا پروژې وې چې په نړۍ کې د بې شمېره کشفونو لامل شوې.

د جمينای پروژه چې د ۱۹۶۲ او ۱۹٦٦ کلونو تر منځ پيل شوه، جمينای پروژه د ناسا يوه پروژه وه چې اصلي موخه يې د فضايي وسايلو ازمويل وو، دوی غوښتل هغه وسايل او وسايط و ازمويي چې فضا ته لېږل کېږي او فضانوردان بايد له هغو ګټه واخلي. د دې پروژې تر ټولو اوږد سفر ۱۵ ورځې وخت ونيو، دوی په دې لړ کې له ځمکې بهر، د فضايي وسايلو پر اتصال، فضايي عملياتو، د وسايلو ترمنځ ارتباط او دې ته ورته مسايل وڅېړل. په دغه پروژه کې ۱۲ کسه فضا ته ولاړل، چې ۲۸ ميليارده ډالره لګښت ورباندې راغی. دا پروژه همداسې دوامداره وه، دوی د جمينای په نامه ډېر پړاوونه په دې پروژه کې عملي کړل، جمينای درې هغه سپوږمکۍ وې چې دوی بريالي شول دوه کسه د ځمکې پر مدار را وګرځوي. د جمينای څلور فضايي ماموريت فضانوردان لومړني کسان وو چې په فضا کې يې حرکت وکړ، دوی لومړني کسان وو چې له سپوږمکۍ را ووتل او فضا کې وګرځېدل. هينګينز ويټ هغه کس و چې د لومړي ځل لپاره يې لس دقيقې په فضا کې تېرې کړې.

تر جمينای وروسته آپولو پروژه پيل شوه، دا نو د نړۍ او امريکا په علمي تاريخي کې ځانګړې پروژه وه، د دغې پروژې په لړ کې ۱۲ انسانان، د شپږو فضايي بېړيو له لارې فضا ته ولاړل، دغو دوولسو کسانو ټولو د سپوږمۍ پر مخ ګامونه اېښې دي. ځکه د دغې پروژې اصلي موخه د سپوږمۍ پر مخ ګام اېښودل وو. دوی له ۱۹۶۹ تر ۱۹۷۲ کال پورې هر يوه په خپل وار سپوږمۍ ته سفرونه کړي دي. ټول د ساترين سپوږمکۍ پر مټ، د کنډي له فضايي سټېشن سپوږمۍ ته لېږل شوي دي. د دغې پروژې ټول لګښت تر شلو ميلياردو ډالرو پورته و. دا نو هغه څه وو چې د نړۍ په علمي تاريخ کې يې د سپوږمۍ په اړه د څېړنو نوی باب پرانيست او د انسانانو ډېرو پوښتنو ته يې ځوابونه وويل. د آپولو په پروژه کې ټول ٦ پروازونه تر سره شول چې ټول يې بريالي وو. اپولو ۱۷ وروستی او شپږم پرواز و، چې انسان په سپوږمۍ کې وګرځيد او له هغې وروسته ناسا تر دې دمه کوم پرواز سپوږمۍ ته نه دی کړی. البته د سپوږمۍ پر مدار ډېرې سپوږمکۍ او فضانوردان راګرځي، خو پر سطحه يې نه دي ټيټ شوي.

د ناسا يوه بله پروژه د شاتل پروژه وه، دوی د دغې پروژې نوم سپس ټرانسپورټ اېښی و، چې مانا يې فضايي لېږ رالېږد دی. دا نو تر ټولو ستره پروژه وه چې په فضا کې يې د نړيوال فضايي سټېشن لپاره توکي لېږدول او هڅه يې دا وه چې په فضا کې تر ټولو ستر فضايي ساختمان جوړ کړي. د دغې پروژې په لړ کې د امريکا او روسيې فضايي سازمانونه سره يو ځای شول او کوښښ يې وکړ، چې په ګډه خپلې پروژې سره شريکې او د يو بل له تجربو ګټه واخلي. په ۱۹۷۳ کال کې ناسا خپل کارونه پيل کړل، اروپايي هېوادونو هم په دې برخه کې مرسته ورسره کوله، دوی به هغه وسايل د دغې پروژې له لارې فضا ته لېږدول، چې فضانوردانو او يا فضايي وسايلو اړتيا ورته لرله. دوی په دې لړ کې ۱٦ ماموريتونه مخ ته يوړل، يو وخت فضايي نوري تلسکوپونو ستونزه پيدا کړه چې د همدې پرواز په لړ کې ورغول شول.

په ۱۱۹۲ کال کې روسيې او ناسا يوه هوکړه وکړه چې له مخې به يې د فضايي لېږد را لېږد په لړ کې له يو بل سره مرسته کوي، دوی په نړيوال فضايي سټېشن کې د اتصال په هڅه کې وو، په ۱۹۸٦ کال کې چې کله چلنجر توغوندی فضا ته وتوغول شو، په فضا کې يې تر ۷۳ ثانيو وروسته انفجار وکړ، په دې لړ کې ۷ فضانوردان ووژل شول او په دويم ځل په ۲۰۰۳ کال فضايي شاتل له فضا کلمبيا ته د راګرځېدو په حال کې و، چې وچاودېد او ۱۳۵ کسان يې مړه کړل. دغه پروژه په ټوله کې ۱۳۵ فضايي پروازونه لري، چې وروستۍ راکټ يې په ۲۰۱۱ کال کې توغول شوی دی.

نړيوال فضايي تمځای (International Space Station) د ځمکې په ټيټ مدار (low Earth orbit) کې يوه سپوږمکۍ (artificial satellite) ده چې لومړۍ برخه يې په ۱۹۹۸ کې (مدار) ته ولېږل شوه. دا تمځای نن سبا په فضا کې تر ټولو لويه لاسي (مصنوعي) سپوږمکۍ ده، چې له ځمکې زياتره په لغړو سترګو هم ليدل کېدای شي. نړيوال فضايي تمځای له فشاري رغښېلګو (pressurized modules)، بهرنيو اډانو، لمريزو هيندارو، او نورو وسايلو جوړ شوی دی. د دې تمځای د جوړېدو توکي په ټوټو ټوټو د پروټون (Proton) او سويوز (Soyuz) په نامه روسي توغنديو او همدارنګه د امريکايي فضايي ماکوګانو (Space Shuttles) له لارې فضا ته ولېږل شول.

نړيوال فضايي تمځای د روسي ساليوت (Salyut)، الماز(Almaz)، او مير (Mir) او امريکايي سکايلېب وروسته نهم تمځای دی چې وګړي پکې اوسېږي. دا تمځای له تېرو ۱۸ کلونو او د ۲۰۰۰ کال د نومبر په ۲مه د لومړي لېږد (Expedition ۱) له رسېدا راهيسې په پرله‌پسې توګه هستوګن دی چې دا په فضا کې د وګړيو تر ټولو اوږد موجوديت دی، چې د مير (Mir) ريکارډ يې چې ۹ کاله او ۳۵۷ ورځې و، مات کړی دی. د بېلابېلو فضايي بېړيو لکه سويوز (Soyuz)، پراګرس (Progress)، آټومېټډ ټرانسفر وهيکل (Automated Transfer Vehicle)، ايچ-۲ ټرانسفر وهيکل (H-II Transfer Vehicle)، ډرېګن (Dragon)، او سيګنوس (Cygnus) لخوا د دې تمځای د ترميم چارې ترسره کېږي. تر اوسه پورې د ۱۵ هېوادونو فضانوردانو له دې څخه ليدنه کړې ده.

ناسا وروسته داسې پروژې پيل کړې چې له کوم فضانورد پرته تر سره کېدې، په دې لړ کې يې مريخ او سپوږمۍ ته ډېرې داسې سپوږمکۍ لېږلې دي. دوی يو وخت مريخ ته همداسې يوه سپوږمکۍ ولېږله، اوس هم مشهوره مقوله ده په مريخ کې چې وايي: مريخ نورد په خټو کې بند دی، په ۲۰۱۲ کال کې چې کله دوی مريخ ته رباط ولېږه، هغه په مريخ کې په خټو کې ونښت او د ناسا د کلونو خواري هيڅ شوه، خو دا بندښت هم بې څه نه و، ويې ښوده چې مريخ د ژوند وړتيا لري. په ۲۰۱۲ کال کې د مريخ مشر د رباط په وسيله د لومړي ځل لپاره خپل غږ د مريخ پر مخ خپور کړ، هغه وويل، سلام زه چارلي يم، د ناسا مدير يم، زه له تاسې سره د ځيرک رباط له لارې خبرې کوم چې اوس د مريخ پر مخ دی.

چارلز بولدن د ناسا اوسنی مدير دی، د ناسا مديريت د دغه سازمان د پرېکړو تر ټولو مهم مقام دی، نور مهم چارواکي يې: د مدير مرستيال، د مدير علمي مرستيال، د مدير فني مرستيال، ارشد انجنير، د اطلاعاتو ارشد افسر، د ټکنالوژۍ او علمي څېړنو ارشد مشاور.

د ۲۰۰۹ کال په مې مياشت کې چارلز بولدن د بارک اوباما له لوري د دغه ادارې مشر وټاکل شو، ډېرو کسانو د ناسا له جوړښت تر دې دمه د دغه سازمان مشرتوب کړی دی. د ناسا بوديجه د امريکا حکومت ورکوي، ويل کېږي چې د امريکا د تخنيکي او علمي بوديجې له ډلې ۴۷ سلنه يې يوازې ناسا ته ورځي. کلنۍ بوديجه يې تر ۱۷ ملياردو اوړي، د شمېرو له مخې، ۱۸ زره کار کوونکي لري چې د ناسا په بېلو برخو کې فعاليت کوي. دمګړۍ هم په بېلو برخو کې ماموريتونه تر سره کوي، ناسا اداره الوتکې جوړوي، تر ټولو نوې پروژه يې دا ده چې غواړي تر غږ چټکه الوتکه جوړه کړي. دغه اداره د نړۍ په فضايي ادارو کې تر ټولو پر مختللې اداره ده او همدارنګه کارونه هم په لوړه بيه تر سره کوي او قيمتونه يې خورا لوړ دي. اصلي مرکز يې هم په واشنګټن ډي سي کې دی.



## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۵۵ |
| € | ۹۲,۷ |
| Rp. | ٤۹٥ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٥,٥ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# مهرباني مو بايد بې مطلبه وي

ژباړه: حمیدالله حمیدي

له هغه مهربانۍ ځان لرې وساتئ چې په چل او فریب کې نغښتې وي. مهرباني د امتیاز لټوونکي با ادبه اوسېدو، حساب او کتاب شوې ښېنې او مصنوعي ادب او نزاکت په مانا نه ده. که چېرې څوک له خپلې مهربانۍ څخه نورو ته د چل او فرېب ورکولو په توګه کار اخلي او موخه یې دا وي څو خپلې غوښتنې پوره کړي او یا مقابل لوری تر کنټرول او اغېزې لاندې راولي، دغه مهال بیا نه شو کولای چې دغه چلند ته د مهربانۍ نوم ورکړو، بلکې دا هر څه په اصل کې چل او فرېب ورکول دي.

**پر خپل ځان باندې مهربانه اوسئ**

د ځینو انسانانو تېروتنه دا ده چې کله له نورو سره مهرباني کوي، له خپل ځان سره له مهربانۍ او صمیمیته ډک چلند نه لري. کېدای شي د دغه حالت ځینې برخې د خپل وجود له ځینو برخو سره مینې نه لرلو ته ور وګرځي، خو ځینې وخت بیا د دغه چارې ریښه له خپل ځان څخه په بشپړې پوهې نه درلودلو کې ده. په خواشینۍ سره کله چې له خپل دروني وجود څخه استحکام او پیاوړتیا ونه لری، دغه خطر شته چې مهرباني مو رښتینې او خالصه نه وي. ځان پېژندنه له تاسو سره مرسته کوي څو پوه شی چې د ځور او خواشینیو سرچینه مو څه ده. ځان پېژندنه همدارنګه تاسو ته له خپلو دروني نیمګړتیاوو او نا همغږیو سره د مخ کېدو وړتیا درکوي. دغه ځانګړنه تاسو ته موکه درکوي څو د خپل شخصیت پر نا مطلوبو اړخونو باندې کار وکړی.
خپل ډېر وخت ځان پېژندنې ته وقف کړئ او له دغې پوهې څخه له خپل ځان (البته باید یادونه وکړو چې موږ ټول نیمګړتیاوې او کمزورتیاوې لرو) او نورو سره د مهربانه اوسېدو لپاره ګټه واخلئ.
له ځانه ویوښتئ چې له ځان سره مهرباني کول څه مانا لري. د ډېری کسانو لپاره له ځان سره مهرباني کول د دروني خبرو اترو مشاهده او ساتنه او له منفي افکارو څخه د مخنیوي په مانا ده.

**مهرباني کول له مهربانه انسانانو زده کړئ**

د خپل ژوند پر رښتینو مهربانه انسانانو او دا چې دغه کسان څه حس درکوي، فکر وکړئ. ایا ان یوازې د هغوی په اړه فکر کول ستاسو د رضایت او خوښۍ لامل کېږي؟ ښایي دا هر څه له دې امله وي چې د مهربانۍ اغېزې تر ډېره پاتې کېږي او له ستونزو او سختیو سره د مخ کېدو پر مهال له انسانانو سره په رضایت او خوښۍ تر لاسه کولو کې مرسته کوي. کله چې یو څوک داسې لاره پیدا کوي چې له تاسو سره د هغه څه په خاطر چې یاست، مینه او محبت وکړي، ناشونې ده څو دغه ډول منل کېدل او اعتبار چې په برخه شوی مو دی، له یاده وباسئ. د دغو کسانو مینه او محبت تر ابده ستاسو په وجود کې خپل ژوند ته دوام ورکوي.
هغه شېبې په یاد راوړئ چې د نورو مهربانۍ تاسو خوشاله کړي یاست. د هغوی مهربانۍ داسې څه ځانګړنه درلوده چې ویې کولای شول تاسو ته د مهم والي ځانګړی حس درکړي؟ ایا هغوی داسې کړنې تر سره کړې دي چې تاسو هم وکولای شی یادې کړنې د زړه له تله تر سره کړی؟

**ډېر تمرکز وکړئ څو مهرباني پر خپل عادت بدله کړئ**

لیو باباټا Leo Babauta وایي، مهرباني یو عادت دی. هغه عادت چې هر څوک کولای شي پر خپل ځان کې وده ورکړي. د هغه وړاندیز دا دی چې د یوې میاشتې لپاره پر مهربانۍ کولو تمرکز وکړئ. د یاد تمرکز له تمرین کولو وروسته به په خپل ژوند کې د ژورو بدلونونو شاهدان اوسی. نسبت خپل ځان ته به غوره احساس پیدا کړی او متوجه به شی چې خلک ستاسو پر وړاندې بېل او بل ډول غبرګون ښیي، له دې ډلې یو هم دا چې خلک به له تاسو سره غوره او د پام وړ چلند کوي.
څکه لکه څنګه چې نوموړی وایي، د اوږدې مودې لپاره له نورو سره مهربانه اوسېدل، زموږ د کار د قانون تابع دي، یانې دا چې خلک به ستاسو د مهربانۍ ځواب بالاخره په مهربانۍ درکړي.
هره ورځ د یوه کس لپاره د مهربانۍ له مخې یو کار تر سره کړئ. د ورځې په پیل کې ځیرکانه پرېکړه وکړئ چې یاد له مهربانۍ ډک کار به مو څه وي. وروسته یې د تر سره کولو لپاره وخت ځانګړی کړئ.
له نورو سره په خپلو اړیکو کې په ځانګړې توګه له هغوی سره چې تل تاسو په غوسه کوي او ځوروي مو، مهربانه او شفقت کوونکي اوسئ او دوستانه چلند ورسره ولرئ. له مهربانۍ څخه د خپل ځواک او قدرت په توګه کار واخلئ.



خپلې کوچنۍ مهربانۍ مو د شفقت او صمیمیت تر پراخو پولو وغځوئ. د اړمنو کسانو لپاره د داوطلبانه کړنو تر سره کول او د نورو د ځور او اندېښنو د کمولو لپاره د لاس پکار کېدو نوښت، هغه بېلګې دي چې له مهربانۍ او شفقت څخه ډک چلند بلل کېږي.

**له ټولو سره مهرباني کوئ، نه یوازې له هغوی سره چې اړتیا ورته لري**


د خپلې مهربانۍ دایره مو پراخه کړئ. په ځینو شرایطو کې مهرباني کول یو اسانه کار دی. د بېلګې په توګه، کله چې په ناڅاپي او نا خود اګاه ډول له (رحم لرونکې مهربانۍ) سره مخ شو، دغه مهال مهرباني کول یو اسانه کار دی. رحم لرونکې مهرباني یو ډول مهرباني ده چې ستېفني ډوریک Stephanie Dowrick یې په اړه بحث کړی دی او په ساده ژبه هغې مهربانۍ ته ویل کېږي چې له سختو اړمنو کسانو لکه ناروغانو، بېوزلو، زیان لیدونکې طبقې او داسې نورو سره باید وشي. له هغو کسانو سره مهرباني کول چې موږ ته نږدې دي، هغه که له عاطفي اړخ وي (لکه د کورنۍ غړي یا ملګري) او یا د بل هر دلیل له مخې (لکه وطن، جنسیت، ورته نژاد...) هم یو اسانه کار دی، تر هغو ډولونو چې مشهور فیلسوف هېګل له هغوی څخه «د داسې نورو» په نوم یادونه کړې ده. کېدای شي له هغو کسانو سره مهرباني کول چې هغوی هم «د داسې نورو» په لېست کې راولو، یو ستونزمن کار وي؛ خو دغه کار یې ارزښت لري.
مهرباني باید محدوده ونه ساتو او اړینه ده چې د هرې سطحې له خلکو سره هغه که د پیسو، مقام، ارزښتونو، عقیدو، چلند، لیدلورې، قومیت، سمت، عمر، جنسیت او داسې نورو له اړخه سره یو شان هم نه وي، په یو ډول مهرباني او چلند وکړو.
که چېرې مهرباني کول یوازې هغو کسانو ته ځانګړې کړو چې زموږ په نظر یې وړتیا او لیاقت لري، همغه ده چې یو اړخیز قضاوت به مو کړی وي او دا په دې مانا ده چې په وجود کې مو یوازې مشروطه مهرباني تمرین کړې ده. په داسې حال کې چې اصیله مهرباني(د حیواناتو په ګډون) ټولو موجوداتو ته شاملېږي.
که مو چېرې له یوه کس سره مهرباني کول یوازې له دې امله ځنډولي او سپمولي وي، چې هغه ستاسو له ملاتړ او درک پرته هم کولای شي خپل ژوند ته دوام ورکړي، په دې مانا ده چې یو اړخیزه او محدوده مهرباني مو ټاکلې ده؛ خو په یاد ولرئ چې مهرباني مو باید ټول شموله او پراخه وي، نه یوازې یوه ټاکلې وضعیت، شخص، وخت او ځای ته محدوده.

**د نورو په اړه قضاوت کول حد اقل ته ورسوئ**

که په رښتیا غواړی چې مهربانه و اوسی، نور د نورو په اړه خپل قضاوت کول کنټرول کړئ. پر نیوکو باندې د وخت د ضایع کولو پر ځای، د مثبت اوسېدو او شفقت لپاره وخت ځانګړی کړئ. د نورو په اړه له قضاوت کولو لاس واخلئ او په یاد ولرئ چې تاسو هېڅکله نور په بشپړه توګه نه شئ درک کولای، مګر دا چې یوه ورځ یا یوه اونۍ د هغوی پر ځای ژوند وکړی. د هغوی په اړه د قضاوت کولو پر ځای، غوره ده چې له هغوی سره پر مهربانه اوسېدو تمرکز وکړئ.
پر دې سربېره، باید تل په یاد ولرو چې مهربانه اوسېدل یانې دا چې د هغې مهربانۍ او همکارۍ پر وړاندې چې له نورو سره یې کوو، نه باید له هغوی څخه تمه او توقع ولرو.

## عبدالله: سیاسیون دې یا د خبرو لپاره سره متحد شي او یا دې سختې جګړې ته په تمه شي

د مصالحې عالي شورا رییس عبدالله عبدالله وایي، افغان سیاسي مشران باید د سولې مذاکراتو څخه د ملاتړ په موخه له طالبانو سره د سولې په خبرو کې متحد شي او یا دې د نړیوالو ځواکونو تر وتلو وروسته د یوې ترخې جګړې په تمه شي.
نوموړي له اسوشیټېډ پرېس اژانس سره په مرکه کې ویلي، چې اوس د دې وخت دی چې افغان سیاسیون د سولې په خبرو کې سره متحد شي. هغه د ګواښ په ډول ویلي، که د سولې له بهیر څخه د ملاتړ په موخه د افغان سیاسیونو یووالی رامنځته نه شي، په وینا یې، تاریخ او له وضعیت څخه ناهیلي شوي میلیونونه خلک به یې په اړه په سختۍ سره قضاوت وکړي.



عبدالله همدارنګه ویلي چې له افغانستان څخه د نړیوالو ځواکونو وتل به له ځان سره ستونزې ولري، خو نوموړي ټینګار کړی چې ټول پام باید د سولې په ټینګېدو شي. هغه پر سولې تمرکز د افغان حکومت او طالبانو په ګټه بللی دی.
نوموړي یو ځل بیا ویلي، چې طالبان باید خپلې غوښتنې د سولې د خبرو پر مېز مطرح کړي او په وینا یې، افغان حکومت یې په اړه بحث کولو ته چمتو دی.
د ملي مصالحې عالي شورا مشر زیاته کړې چې طالبان د جګړې له لارې نه شي بریالي کېدای او په وینا یې، د سیمې هېوادونه یې د زور له لارې واک ته د رسېدو ملاتړ هم نه کوي. عبدالله ویلي: «یو پراخ او هر اړخیز سوله‌ییز توافق هغه څه دی، چې ټول ورباندې باور لري... خدای مه کړه که سولې ته ونه رسېږو، البته هېڅوک د هېواد وروستی تاریخ نه دی هېر کړی.»
عبدالله عبدالله داسې مهال د افغان سولې لپاره د سیاسیونو پر یووالي ټینګار کړی، چې ولسمشر غني د سولې په اړه د ملي او سیاسي اجماع د پیاوړتیا او سولې ته د رسېدو په موخه په ارګ کې له ځینو جهادي مشرانو سره لیدنې کتنې پیل کړې دي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



WAYGAL
PRINTING CO

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



دوشنبه د ۱۴۰۰ د غويي ۱۳مه | د ۲۰۲۱ د مي دربيمه |۷۱٦مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


دوشنبه ۱۴۰۰/۰۲/۱۳

د سهار اذان ۰۳:۲۵ د ماښام اذان ۰٦:٤٤

رمضان کریم

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۵ | ۲۲ | ۳۰ | ۳۵ | ۳۷ | ۲۹ |
| ۱۵ | ۱۵ | ۱۸ | ۲۳ | ۲٤ | ۱۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۵ | لمر ختل ۰۵:۰۲ | ماسپښین ۱۱:۵۱ | مازیګر ۰٤:٤۱ | ماښام ۰۹:٤٤ | ماخوستن ۰۸:۰۷

## نړۍ




## سناتوران: طالبان همزمان با آغاز خروج نیروهای خارجی حملات شان را افزایش داده‌اند



شماری از اعضای مشرانو جرگه می گویند که طالبان همزمان با آغاز خروج نیروهای خارجی از کشور حمله‌های شان را افزایش داده‌اند. خروج نیروهای خارجی از افغانستان، روز گذشته آغاز شد. قرار است تا یازدهم ماه سپتامبر تمامی نیروهای خارجی افغانستان را ترک کنند. طالبان اما می‌گویند که بربنیاد توافق نامه دوحه نیروهای خارجی باید تا اول ماه می (روز گذشته) افغانستان را ترک می کردند. غلام محی‌الدین منصف، عضو مشرانو جرگه گفت: «اکنون که خروج این‌ها (نیروهای خارجی) آغاز شده‌است، مخالفین حکومت می‌خواهند که از طریق رعب و وحشت مردم افغانستان را در هراس قرار بدهند.»

رئیس و شماری از اعضای دیگر مشرانو جرگه طالبان را به نداشتن اراده برای صلح متهم می‌سازند و می گویند با شیوهٔ جنگی که طالبان پیش گرفته اند، آمدن صلح در کشور ناممکن است. فضل هادی مسلمیار، رئیس مشرانو جرگه بیان داشت: «جنایت‌کاران با کارهای شان نشان دادند که این جا صلح یک خیال و محال است. آن‌ها به جز از وحشت و ظلم چیزی دیگری را یاد ندارند.» اشاره آقای مسلمیار به انفجار موتر بم‌گذاری شده در ولایت لوگر است. در این رویداد ۲٦ تن جان باختند و ۱۱۰ تن دیگر زخمی شده‌اند. اما طالبان مسؤلیت این انفجار را به‌عهده نگرفته‌اند. حکومت گفته‌است که این انفجار کار طالبان بوده‌است.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له درې میلیونه او ۲۰۸زرو واوښت


د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۵۲ میلیونه او ۹۲۵ زره او ۵۹۸ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۲۰۸زره او ٦۹۴ کسان مړه شوي او له ۱۳۰ میلیونو ډېر ښېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپوروڼو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۳میلیونه او ۱۴۷ زره او اووه ته رسېدلي او ۵۹۰ زره او ۷۲۱ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۹ میلیونه او ۵۵۷ زره او ۴۵۷ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۴ میلیونه او ۷۲۵زره او ۹۷۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ٦۴۲ زره او ۳۵۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او ترکیه د څلور میلیونه او ۸۴۹ زره او ۴۰۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

روسیه، برېتانیا، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## راپورونه: قرغیزستان او تاجکستان له لانجمنې سرحدي سیمې د ځواکونو د ایستلو پر سر موافقه وکړه



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۵۲میلیونه او ۹۲۵ زره او ۵۹۸ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۲۰۸زره او ٦۹۴ کسان مړه شوي او له ۱۳۰ میلیونو ډېر ښېرته رغېدلي دي.


د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپوروڼو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۳میلیونه او ۱۴۷ زره او اووه ته رسېدلي او ۵۹۰ زره او ۷۲۱ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۹ میلیونه او ۵۵۷ زره او ۴۵۷ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۴ میلیونه او ۷۲۵زره او ۹۷۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ٦۴۲ زره او ۳۵۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او ترکیه د څلور میلیونه او ۸۴۹ زره او ۴۰۸ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

روسیه، برېتانیا، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.


## ژوند

## کم خوبي د انسان عمر کموي



د شپې پر مهال د خوب ګډوډي یا هم په خوب کې خلل رامنځته کېدل، په سهار کې د طبیعت خرابوالي او د ستړیا له حس کولو څو برابره ډېر زیانمن وي. د خوب اغېزمنېدل په حقیقت کې د زړه د ناروغۍ یا هم د کومې بلې ناروغۍ لامل ګرځي او مخکې له وخته د مړینې سبب هم کېږي او یا هم عمر کموي، چې ښځې په دې برخه کې تر ډېره اغېزمنې وي. د شپې پر مهال د شور، تودوخې، درد او یا هم د ساه په اخیستلو کې ستونزې په خوب کې خلل یا ګډوډي رامنځته کوي، که څه هم دغه دورانیه لنډه وي او تر هغې یې معلومات نه کېږي چې سببونو یې شدت نه وي اختیار کړی. څېړونکي وایي هغه ښځې چې د شپې پر مهال یې تر ډېره خوب ګډوډ وي، د زړه د ناروغیو خطر یې دوه برابره ډېرېږي او په دې ټولو حالتونو کې د ژر مړینې امکان ډېر وي.

## شیاومي خپل تر ټولو پیاوړی ځیرک موبایل معرفي کړ




شیاومي کمپنۍ د یوې رسمي غونډې له لارې د مي۱۱ لړۍ دوه نوي موبایلونه چې ډېر پیاوړي او غوره ځانګړنې لري، معرفي کړل. دغه ځیرک موبایلونه شیاومي مي۱۱ پرو او شیاومي مي۱۱ الټرا نومول شوي دي او دواړو کې د کوالکام کمپنۍ تر ټولو پیاوړی سنپ ډراګن۸۸۸ پروسېسر کارول شوی دی. شیاومي مي۱۱ پرو: دغه ځیرک موبایل ٦،۸۱ انچه امولېډ ډوله او کیو اېچ ډي ریزلوشن لرونکې مخپاڼه لري، چې له ۱۲۰ هرتز ریفرېش رېټ او ډولبي ویژن څخه هم ملاتړ کوي. دغه ځیرک موبایل به ۸ او ۱۲ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ او ۲۵٦ ګېګابایټ د فایل ثبتونې ورتیا لرونکو بڼو سره خرڅلاو ته وړاندې شي. شیاومي مي۱۱ پرو کې ۵۰۰۰ ملي امپیره ورتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې چې له ٦۷ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. شاتنۍ برخه کې درې کامرې لري چې ۵۰ مېګاپکسله اصلي کامره، ۸ مېګاپکسله ټېلې فوټو او ۱۳ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل کامرې پکې شاملې دي. مخکینۍ برخه کې یوه ۲۰ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره هم لري. د ۸ ګېګابایټ رم او ۱۲۸ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لرونکې بڼې بیه یې ۴۹۹۹ چینایي یوان (تقریباً ٦۰۰۰۰ افغانۍ) ټاکل شوې ده.




عزیزي بانک
Azizi Bank
WOMEN'S
CURRENT ACCOUNT

د میرمنو لپاره ځانګړی جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپېژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانګړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په اې ټي ام او ماسټر ډېټ کارټونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتنډویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانېستلی شي. همداراز د میرمنو حساب له ټیټ اړتیاوړ بیلانس سره یعنې 500 افغانیو او50 ډالرو سره پرانېستل کېږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالي چمتو کوي.

www.azizibank.af 1515